د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپيڅلي نامه

# Logar
# لوګر

مياشتنۍ خپرونه

دلوګراطلاعاتواوفرهنګ رياست مياشتنۍ سياسي، علمي، ټولنيزه، ديني او فرهنګي خپرونه

دوشنبه د۱۳۹۴ کال دکب مياشتې لسمه، د ۲۰۱۶ عيسوي کال دفبروري نهه ويشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۷۷) لومړی کال، نهمه ګڼه

### دناروغ پوښتنه

رســـول الله صلی الله علیه وسلم فرمايــلي دي: کوم مسلمان چي (د بل ناروغ) مسلمان د ورځي په اوله حصه کي عيــادت (پوښتنه) کوي نو اويا زره (۷۰۰۰۰) ملکي تر ماښامه ده ته دعاوي کوي او چي د ورځي په اخري برخه کې تر زوال وروسته دناروغ عيادت (پوښتنه) وکړي نو اويا زره ملکي دده لپاره تر سهاره د رحمت او مغفرت دعاوې کوي او په جنت کې د ده لپاره يو باغ مقرر کيږي.

رواه الترمذی اوابوداود

## دپل علم ښار دپسته خانې نوې ودانۍ پرانيستل شوه





دسلواغې ۲۰ مه: دلوګر ولايت په مرکز پل علم ښار کې د پسته خانې نوې ودانۍ دسلواغې په ۲۰ مه دمخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ دوزير عبدالرزاق واحدي له خوا پرانستل شوه. په هغې غونډه کې چې له همدې امله په پل علم ښار کې جوړه شوې وه دمخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزير عبدالرزاق واحدي، لوګروالي محمد حليم فدايي، د مخابراتو او ټکنالوژۍ وزارت د آی ټي مرستيال ايمل مرجان، د ياد وزارت د دفتر رئيس وزيري، د افغان ټليکام رئيس ګل احمد راستمن، د اترا دادارې رئيس، په ولسي جرګه کې د لوګر د خلکو استازی محمد اکبر ستانکزی، دولايتي شورا رئيس سيد قريب الله سادات، د لوګر امنيه قوماندان مل پاسوال محمد داود احمدي، دلوګردمخابراتو رئيس انجنيرعبدالرحمن ناصري او د يوشمېر ادارو رئيسانو ګډون کړی ؤ. دمخابراتواوټکنالوژۍ وزير اودلوګروالي دخبري کنفرانس له لارې خبريالانو ته معلومات ورکړل. لوګروالي محمد حليم فدايي دمخابراتو اومعلوماتي ټکنالوژۍ دوزير لوګرته د پاملرنې اودې ولايت ته دراتګ له امله قدرداني وکړه او له ده څخه يې وغوښتل چې دخلکو د پوهاوي او دځوانانو دپوهې دکچې دلوړولو په موخه د نوري فايبر دغه ولايت ته راولېږدوي. همدارنګه والي زياته کړه د حکومت اراده خلکو ته د خدمتونو رسول دي او ولس ته هم ملي ګټې مهمي دي چې مخابرات هم ملي ګټې شميرل کيږي، چې په دې تړاؤ دمخابراتو مسؤلين هيوادوالو ته لازمې کړنې ترسره او ولس ورڅخه سمه اوقانوني ګټه پورته کړي. ... پاتې په دويم مخ کې

## بيش ازپنج ټُن ادويه بی کيفيت وتاريخ گذشته درولايت لوگرحريق شد



بيش ازپنج ټُن ادويه بی کيفيت وتاريخ گذشته به تاريخ 6 دلو ازسوی رياست صحت عامه لوگردرشهرپل علم حريق گرديد.

داکترمحمدظريف نائب خيل رئيس صحت عامه لوگر به آژانس باختر گفت: چهارصدوپنجاه وسه قلم ادويه بی کيفيت وتاريخ گذشته به ارزش مجموعی 983956 افغانی که درجريان دوسال به اساس سروی که از سوی کميسيون موظف صورت گرفت از دواخانه های مرکز اين ولايت جمع آوری و درحضور داشت هئيت موظف حريق گرديد.

رئيس صحت عامه لوگر از مالکان دواخانه ها خواست تا از فروش دوای بی کيفيت وتاريخ گذشته خوداری نمايند وخاطرنشان ساخت که درصورت تخلف، از سوی رياست صحت عامه دواخانه مسدود وبا متخلفين برخورد قانونی صورت خواهد گرفت .

باختر

## کودک ربوده شده کابل از لوگر يافت شد

کودک ده سال از نزد ربايندگان فرار و خودرا به پوليس تسليم نمود. اين کودک درولايت لوگر از نزدآدم ربائيان فرار نموده وخودش را به پوليس تسليم نمود. سمونوال ويس الدين تلاش مدير مبارزه با جرايم جنائی قوماندانی امنيه ولايت لوگر به تاريخ اول حوت به آژانس باختر گفت: اين کودک دوروز قبل از ناحيه هشتم شهر کابل توسط آدم ربائيان ربوده شده بود که عصر ديروز درشهر پل علم به پوليس بخش مبارزه باجرايم جنائی قوماندانی امنيه تسليم شد. تلاش افزود : تحقيقات ابتدائی از اين کودک صورت گرفته اين طفل به مقصد آماده سازی برای انجام حملات انتحاری به پاکستان انتقال داده ميشد. تلاش اضافه کرد ، تا حال کسی درپيوند به قضيه بازداشت نشده و پوليس به تعقيب ربايندگان ميباشد. گفته ميشود ، اين کودک باشنده اصلی ولايت لوگر ميباشد که درکابل زندگی ميکرد.

باختر

## د کابل – لوګر د دويم لين سړک د جوړيدو تړون لاسليک شو

دسلواغې ۱۹ مه: په ټولګټو وزارت کې د کابل - لوګر د دويم لين سړک د جوړيدو تړون د لوګروالي محمد حليم فدايي، ټولګټو وزيرمحمود بليغ ، په ولسي جرګه د لوګر د خلکو استازي حاجي اکبر ستانکزي ، د لوګرد ولايتي ... پاتې په دويم مخ



سرليکنه ...

## دسلواغې ۲۶مه؛ دافغانستان څخه دشوروي سرولښکرو ستره ماته

دجدی شپږمه د۱۳۵۸ کال دسره پوځ يرغلګرود افغانستان په پاکه خاوره په درندونظامي تجهيزاتوباندې سمبال دځمکې اوهواله لارې يرغل راوړل، دهيواد دويجاړيو ، دمليونونو افغانانو دشهادت، معلوليت اوبهرنيوهيوادونو ته مهاجرت لامل شول، دنني زيږندو (نسل) اودهيواد پخواني نسل دغه ورځ به دوی ته نه هيريدونکی ورځ وي.

دمرغومې شپږمه نيټه دافغانستان پرسپيڅلي او پاکې خاورې دروسي ښکيلاک تيري دشوروی اتحاد دچارواکو يوه ستره تيروتنه وه. په مادي اومعنوي لحاظ يې دواړه ملتونه وځپل اوګڼې ستونزې اوناخوالي يې راوپنځولې.

روسانو دخپلولاسپوڅوله لارې غوښتل افغانستان ترخپلې ولکې لاندې راولي اودهندد تودو اوبو په لورمخه کړي، خوددوی دغه موخه په دې لامل ناکامه اوشنډه شوه ، چې دخپل ښکارلپاره يې دګيدړې پرځای زمری انتخاب کړی ؤ.

له نن نه پوره اوويشت کاله وړاندې د۱۳۶۷ هجري لمريزکال دسلواغې په شپږويشتمه (د ۱۹۸۹ کال دفبروري په پينځلسمه ) افغان ميړني اولس په خپلې ميړانې اوسرښندنې سره دنړۍ لوی زبرځواک ددړې وړې کيدو پيلامه برابره کړه.

دپخواني شوروي هيواد پرافغانستان د يرغل اود خپلو ګوډاګيانو په راليږلو سره فکرکاوه، چې زموږپرهيواد به هم دشوروي دنوروسيمو په شان خيټه واچوي اوپه يوځو ورځوکې به ځان ګرمو اوبوته ورسوي. هغوی دخپلوناوړو موخو دترلاسه کولو لپاره له هرې لارې کارواخيستل له ډله ئيزې وژنې نيولې دهرډول سپکو او درنو وسلو ترکارونې پورې يې هرڅه په افغانستان کې تجربه کړل، خو دافغان ميړني اولس او واقعي سرښندونکو په وړاندې دغه ظلمونو ته هيڅ توان نه درلود ، ځکه افغان غيور ولس يوازې پر لوی خدای (ج) په کلک ايمان سره پرباطل دحق دبري لپاره دڅښتن تعالي پرژمنې پوره باور درلود.

دهيوادباتورملت اوزړه وروماجدينو په ميړانه اوشجاعت سره ديرغلګرو په وړاندې دجهاد بيرغ اوچت کړ اودزياتومبارزو اونه ستړی کيدونکوهڅوباندې وتوانيد ، چې د دوميليونو تکړه ځوانانودشهادت آرمان په پوره کيدو په زرګونو معلولو اومعيوبو افغانانو په ګرځيدو دهيواد دخلاصون په موخه يرغلګرو سروپو ځيانوته يې ستره ماته ورکړه اودافغانستان له پاکې خاورې څخه په تيښته وشړل. ددې شرمندلې ماتی سره دپخواني شوروي سيستم له مينځه ولاړ، تيت او پرک اونورهيوادونه چې سرو لښکرو لاندې کړي ؤ. ددې ستر برياليتوب له برکته آزاد اوخلاصی يې وموندل.

د۱۳۶۷ کال دسلواغې دمياشتې په ۲۶ مه دشوروي سرولښکروماته دافغانستان په تاريخ کې ثبت اوپه زرينوکرښوولیکل شوه.

افغان غيرتي اوميړني ولس دخپلونيکونواوپلرونوپه پل قدم ايښې دی، دمتجاوزينواويرغلګرو په وړاندې دخپلوفرضي وجيبو څخه کاراخيستې دی، څرنګه چې د دوی پلرونواواباګانودنړۍ استکباري سترقوت انګليس ته ماته ورکړه، نودوی هم د دويم سترطاقت روس يې له پښو څخه وغورځول اوتراوسه يې په ناتاريواوخواريوکيننولي دي، بايدووايو ، چې دسلواغې دشپږويشتمې نيټې برې يعنې دنړۍ دزبرځواک دماتې اودخپل هيواد آزادول اوخپلواکۍ دافغان ميړني اومجاهد ولس دسرښندنو او ميړانودبري ورځ ده.

دغه ورځ بايد افغانان هرکال په ډير خورا مينې او په پرتمينوجشنونو سره ولمانځي، څو يرغلګرو ته ورپه يادکړي، چې هيڅکله افغانستان ته په بدواوناوړه نيتونوسره ونه ګوري، هر پتمن افغان پدې ورځ وويارې دخپل تاريخ درناوی وکړي او دلابرياليتوب هيله ټولو افغانانو ته دلوی څښتن تعالی څخه غواړو اودافغانستان سمسورتيا جوړونه دهمدې ننګياليوبچيانو پر مټ غوښتونکي يو.

اداره

**فــرهـنــگ اصــيل افــغــانـی نــشــان دهــنــده تــاريــخ کــهــن مــا اســت.**